# د بُزُرګانِ دین خبرې

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوت اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د بُزُرګانِ دين خبرې

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: د قيامت په ورځ به په خلقو کښې ماته زيات نزدې هغه وي چا چې په ما زيات درود شريف لوستے وي.

(ترمذي، 27/2، حديث:484)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## فرامينِ حضرت کَعبُ الاَحبار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

❁ کوم بنده چې د الله پاک په نعمت باندې شُکر نه ادا کوي او نه عاجزي کوي نو الله پاک د هغه بنده د دنيا نفع هم بنده کړي او د هغه د پاره د دوزخ يوه طَبقه برسيره کړي، اوس که چرې الله پاک اوغواړي نو هغه له عذابورکړي او که اوغواړي معاف ئې کړي. (احياء العلوم، 419/3)

❁ کتابُ الله (يعني په قرآنِ پاک) کښې درې ځيزونه داسې دي کوم چې ډير عظمت والا دي چا چې د دې حفاظت اوکړو هغه د الله پاک حقيقي بنده دے او چا چې دا ضائع

کړل هغه د هغه (يعني د الله پاک) حقيقي دښمن دے: (1) لمونځ (2) روژه او (3) غُسلِ جَنابت. (حلية الاولياء، 286/2، رقم: 2248)

## فرامينِ حضرت مَيمُون بن مهران رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه

❁ عيب راويستونکي بد ترينه خلق وي. (حلية الاولياء، 95/4، رقم: 4872)

❁ څوک چې د الله پاک په دربار کښې خپله مرتبه معلومول غواړي هغه دې په خپلو عملونو باندې غور اوکړي ځکه چې څنګه د هغه عملونه دي هغه شان به د هغه مرتبه وي. (حلية الاولياء، 87/4، رقم: 4829)

❁ د عالِم او جاهل دواړو سره بحث مه کوئ ځکه که چرې د عالِم سره بحث کوئ نو هغه به خپل عِلم په تاسو بند کړي او که د جاهل سره بحث کوئ نو هغه به تاسو ته غصه شي. (نضرة النعيم، 4384/9)

❁ څوک چې د قرآنِ پاک پيروي کوي نو قرآن هغه ته لا ر ښائي تر دې پورې چې جنّت ته ئې رسوي او څوک چې قرآنِ پاک پرېږدي قرآن هغه نه پرېږدي بلکه په هغه پسې وريسې وي. تر دې پورې چې هغه دوزخ ته اورغورځوي. (حلية الاولياء، 87/4، رقم:4828)

❁ په دنيا کښې د دوؤ کَسانو د پاره بهتري ده: د توبه کوونکي د پاره او د درجو د اوچت والي په واسطه د عمل کوونکي د پاره. (حلية الاولياء، 86/4، رقم: 4823)

❁ اے ځلمو! په خپله ځوانئ او چستئ کښې خپل قوت او طاقت د الله پاک په اطاعت

کښې تیر کړئ او اے بوډاګانو! اوس د کوم څیز انتظار دے؟

(حلیة الاولیاء، 90/4، رقم: 4846)

❁ زما په خپل ژوند کښې یو درهم صدقه کول د دې نه زیات خوښ دي چې د مرګ نه پس څوک زما د طرف نه 100 درهمه صدقه کړي. (حلیة الاولیاء، 90/4، رقم: 4847)

❁ څوک چې په قِسمت رضا نه وي د هغه د بیوقوفۍ هیڅ علاج نشته. (احیاء العلوم، 66/5)

## فرامینِ حضرت وَهب بن مُنَبِّه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه

❁ د دنیا او آخرت مثال د دوؤ ښځو (یعني د یو سړي د دوؤ ښځو) په شان دے که چرې یوه رضا کړے شي نو بله خفه شي. (حلیة الاولیاء، 53/4، رقم: 4720)

❁ د بد اَخلاقه انسان مثال د هغه مات منګي په شان دے کوم چې د استعمال قابل پاتې نه وي. (احیاءُ العلوم، 64/3)

❁ چا چې خپل خواهش د خپلو قدمونو لاندې اوساتو شیطان د هغه د سورې نه هم تختي. (حلیة الاولیاء، 63/4، رقم: 4759)

❁ کوم کَس چې د آخرت د عمل په بدله کښې دنیا اوغواړي الله پاک د هغه زړه اُلټا کوي او د هغه نوم د دوزخیانو په رجسټرډ کښې لیکي. (تنبیه المغترین، ص: 23)

❁ مصیبت د مؤمن د پاره داسې دے لکه د څناور د پاره د ښپو بیړۍ.

(حلیة الاولیاء، 59/4، رقم: 4740)

❁ ځوک چې په يو مصيبت کښې اخته کړے شو يقيناً هغه د انبيائے کرامو عَلَيۡهِ السَّلَام په لاره روان کړے شو. (حلية الاولياء، 59/4، رقم: 4741)

❁ ما د يو حَواري په کتاب کښې اولوستل: چې کله ته په ازميښت کښې مبتلا کړے شې يا اوئې فرمائيل: د ازميښت والوؤ په لاره روان کړے شې نو ته ځان خوش قسمته اوګڼړه ځکه چې يقيناً ته د انبيائے کرامو عَلَيۡهِ السَّلَام او صالحينو په لاره روان کړے شوے ئې او چې کله ته د نرمئ او آسانئ په لار روان کړے شوې نو يقيناً ستا د پاره د انبياؤ او صالحينو نه علاوه د بل چا لاره ټاکلے شوې ده. (حلية الاولياء، 59/4، رقم: 4742)

❁ د آدم عَلَيۡهِ السَّلَام په اولاد کښې شيطان د ټولو نه زيات اوده کيدونکے او زيات خوراک کوونکے خوښوي. (حلية الاولياء، 63/4، رقم: 4759)

❁ د چا صبر چې د هغه په خواهش غالب شو هغه زبردست عالِم دے.

(حلية الاولياء، 63/4، رقم: 4759)

## فرامينِ حضرت شُميَط بن عَجلان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه

❁ کوم کَس چې هر وخت مرګ مخې ته کوي هغه سره د دنيا د تنګئ او خوشحالئ هيڅ غم نه وي. (حلية الاولياء، 153/3، رقم: 3517)

❁ حضرت عُبيدُ الله بن شُميَط رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه بيانوي: ما خپله مور بې بې حضرت شُميَط بن عَجلان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِا په دې فرمائيلو واوريدله چې الله پاک د مؤمن قوت د هغه په زړه

کېنبې ساتلے دے نه چې د هغه په اندامونو کېنبې، آیا تاسو نه ګورئ چې یو بوډا کمزورے ګس د ورځې روژه نیسي او د شپې عبادت کوي ولې یو (منافق) ځلمے ګس د دې نه عاجزه وي. (حلیة الاولیاء، 153/3، رقم: 3518)

❁ خلق په درې قسمه دي: (1) څوک چې د ابتدا نه د نیکئ په کارونو کېنبې مشغول شو او په هغې ئې همیش والے اختیار کړو تر دې پورې چې د دنیا نه رخصت شو دا په مُقَرَّبِین کېنبې دے (2) د چا چې د ژوند ابتدا خو په ګناهونو او بې خیالئ کېنبې تیره شوه ولې بیا ئې توبه کړه دا په اهلِ یَمِین (ښي طرف والوؤ یعني جنتیانو) کېنبې دے او (3) څوک چې د ابتدا نه په ګناهونو کېنبې مشغول شو او (د توبې کولو نه بغیر) د دنیا نه لاړو دا په اَصحابِ شِمال (ګس طرف والوؤ یعني دوزخیانو) کېنبې دے.

(حلیة الاولیاء، 155/3، رقم: 3529)

## فرامینِ حضرت محمد بن مُنکَدِر رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه

❁ اورېې مړول او ښه خبرې کول به تا جنّت ته بوځي. (موسوعه لا بن ابي الدنیا، 193/7، رقم: 304)

❁ د ماشومانو سره زیاتي توقې مه کوئ! ګني د هغوئي سره به ستاسو قدر او عزت کم شي. (موسوعه لا بن ابي الدنیا، 238/7، رقم: 393)

❁ بے شکه په مغفرت واجب کوونکو څیزونو کېنبې یو وږے مِسکین مَړَوَل دي.

(حلیة الاولیاء، 174/3، رقم: 3600)

❁ د حضرت محمد بن منکدر رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه نه پوښتنه اوکړے شوه: کوم يو عمل ستاسو ډېر خوښ دے؟ اوئې فرمائيل: مؤمن بنده خوشحالول. اوپوښتلے شو: د دې نه علاوه بله څه خبره کومه چې تاسو له مزه درکوي؟ اوئې فرمائيل: (په مسلمانانو) ورونړو خرچ کول.

(حلية الاولياء، 175/3، رقم: 3602)

❁ الله پاک به د قيامت په ورځ ارشاد اوفرمائي: هغه خلق چرته دي چا چې به خپل غوږونه د فضول خبرو او راګونو نه بچ کول هغوئي د جنّت په باغونو کښې داخل کړئ. بيا به فرښتو ته ارشاد اوفرمائي:"دوئي ته زما حمد او ثنا واوروئ او ورته اووائيئ چې اوس به نه د دوئي سره څه ويره وي او نه څه غم." (حلية الاولياء، 176/3، رقم: 3611)

## فرامينِ حضرت زيد بن اَسلم رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه

❁ څوک چې د الله پاک نه ويرېږي نو خلق نه غواړي بيا هم د هغوئي سره محبت کوي.

(حلية الاولياء، 258/3، رقم: 3881)

❁ کوم کَس چې د الله پاک د اطاعت سره تعظيم اوکړي نو الله پاک د خپل جنّت سره هغه ته عزت عطا کړي او کوم کَس چې د نافرمانئ پرېښودو سره د الله پاک تعظيم اوکړي نو الله پاک هغه ته داسې عزت ورکړي چې هغه دوزخ ته نه بوځي. نور فرمائي: د الله پاک نه مدد غواړئ هغه به تاسو د خپل ځان نه علاوه د هر څيز نه بے پروا کړي، نه خو به ستاسو نه زيات بل څوک د الله پاک نياز مند وي او نه به ستاسو نه زيات د هغه

محتاج وي. (حلية الاولياء، 257/3، رقم: 3877)

## فرامینِ حضرت اِبراهیم نَخعِي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه

❁ چا چې د الله پاک د رضا د پاره عِلم حاصل کړو الله پاک به هغه ته دومره عطا کړي چې د هغه کفايت به اوکړي. (مصنف ابن ابي شيبه، 279/8)

❁ په الله پاک مې دې قسم وي! ما د خواهشونو او د خپلې رائے پيروئ کوونکو په خبرو او کارونو کښې لږ شان هم خير نه دے ليدلے. (حلية الاولياء، 247/4، رقم: 5417)

❁ صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم به دا خوښوله چې عمل زيات کړي څه کمے اونکړي چې دغه شان استقامت باقي وي. (حلية الاولياء، 255/4، رقم: 5466)

❁ چې کله به صحابۀ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم جنازه کښې حاضر شول نو د يو څو ورځو پورې به غمژن وو او دا غم به په هغوئې کښې واضحه طور ليدے شو.

(حلية الاولياء، 253/4، رقم: 5459)

❁ چې مونږ به د چا جنازې له لاړو يا د چا د مرګ په باره کښې به مو واوريدل نو مونږ به د يو څو ورځو پورې په غم کښې وو ځکه چې مونږ پوهيږو چې ده ته هغه معامله وړاندې شوې ده کومه چې به دا د جنّت طرفته بوځي يا بيا د دوزخ طرفته ولې ستاسو حال دا دے چې تاسو په خپلو جنازو کښې د دنيا خبرې کوئ.

(حلية الاوياء، 254/4، رقم: 5460)

❁ که چرې بنده د خپلو ګناهونو په شان خپل عبادت پټ اوساتي نو الله پاک به د هغه عبادت ظاهر کړي. (حلیة الاولیاء، 254/4، رقم: 5461)

## فرامینِ حضرت سُفیان بن سعید ثَوري رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ

❁ څوک چې په نیک کار کښې حرام مال لګوي هغه د هغه کَس په شان دے کوم چې په مِتیازو جامې پاکوي، جامې په اوبو پاکیږي او ګناهونه صرف حلال ختموي.

(کتاب الکبائر، ص: 135)

❁ تر څو پورې چې د الله پاک د ویرې زیاتوالے نه وي په عبادت باندې طاقت او په عبادت باندې مضبوطي هیڅا ته نشي حاصلیدے. (حلیة الاولیاء، 400/6، رقم: 9094)

❁ عِلم د دې د پاره حاصلولے شي چې دغه شان د دې په ذریعه د الله پاک ویره او تقویٰ حاصله شي په دې وجه عِلم ته فضیلت ورکړے شوے دے که چرې داسې نه وے نو دې به هم د باقي پاتو نورو څیزونو په شان څه اهمیت نه لرلو.

(حلیة الاولیاء، 400/6، رقم: 9095)

## فرامینِ حضرت سُفیان بن عُیَنیه رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ

❁ د عِلم ورومبۍ درجه په غور سره اوریدل بیا خاموشي اختیارول بیا هغه یادول بیا په هغې عمل کول او بیا هغه خپرول دي. (حلیة الاولیاء، 324/7، رقم: 10694)

❁ چې کله یو عالِم "لَا اَدرِی" (یعني ماته پته نشته) وئیل پریږدي نو په هلاکتونو کښې

پریوځي. (حلية الاولياء، 324/7، رقم: 10696)

❁ غیبت د قرض نه زیات سخت دے، قرض خو بیرته ورکولے شي خو غیبت بیرته نشي ورکړے کیدے. (حلية الاولياء، 324/7، رقم: 10700)

❁ هغه ځائے بد ترین دے چرته چې بنده ګناه کوي او د توبې کولو بغیر د هغه ځائے نه لاړ شي. (حلية الاولياء، 328/7، رقم: 10717)

❁ حکمت د دريو څیزونو نه راځي: (1) د خاموشه پاتې کیدو (2) غور سره د اوریدو او (3) د محفوظ ساتلو سره او د دريو خصلتونو په وجه د حِکمت میوه میلاویږي: (1) د همیشه کور (جنّت) طرفته د رجوع کولو سره (2) د دهوکې د کور (دنیا) نه د لرې وتو سره او (3) د مرګ نه مخکښې د مرګ د تیارئ سره. (حلية الاولياء، 330/7، رقم: 10729)

❁ د حِکمت والا صاحِبانو سره کښینئ ځکه چې د هغوئي مجلس غنیمت، د هغوئي صحبت سلامتي او د هغوئي دوستي عزت دے. (حلية الاولياء، 334/7، رقم: 10744)

## فرامینِ حضرت عبدُ الله بن مُبارک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

❁ چا چې علما سپک اوګڼړل د هغه آخرت ته به نقصان وي. (تاريخ الاسلام للذهبي، 232/12)

❁ چرته چې وئیل نه وي هلته خاموشه پاتې کیدل د انسان د پاره زربردسته ښکلا ده.

(حسن السمت ي الصمت، ص: 108)

❁ رښتیا وئیل زما په نز د قسم خوړلو نه زیات ښه دي. (حلية الاولياء، 180/8، رقم: 11810)

❁ په فراخه تندي ملاقات کول، ښه ښیګړه کول او چاته د تکلیف نه رسولو نوم ښه اخلاق دي. (ترمذي، 404/3، حديث: 2012)

## فرامينِ حضرت فُضیل بن عِیاض رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه

❁ د خپلو مسلمانانو ورونړو غلطیانې معاف کول بهادري ده. (احياءُ العلوم، 221/2)

❁ غور او فکر یوه داسې آئینه ده کومه چې تاسو ته ستاسو نیکۍ او بدۍ ښائي.
(احياءُ العلوم، 162/5)

❁ د الله پاک د محبت مطلب دا دے چې په استقامت سره د هغه اطاعت اوکړے شي، د کومو کارونو چې هغه حکم کړے دے د هغې د کولو او د کومو نه چې د بچ کیدو حکم کړے دے د هغې نه بچ کیدل په ځان باندې لازمي کړي. (عمدة القاري، 228/1)

❁ که چرې ته د الله پاک په تقدیر صبر نشې کولے نو د خپل نفس په تقدیر به هم صبر اونکړے شې. (احياءُ العلوم، 66/5)

## فرامينِ حضرت عبدُ الله بن عَون رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه

❁ اے زما ورونړو! زه ستاسو د پاره درې خیزونه خوښووم: (1) قرآنِ پاک چې شپه او ورځ د دې تلاوت کوئ (2) د مسلمانانو ډله لازمي اونیسئ او (3) د مسلمانانو د عزتونو خرابولو نه ځان ساتئ. (حلية الاولياء، 47/3، رقم: 3116)

❁ الله پاک چې چا له ښکلے شکل، ښکلے رزق او نیک منصب ورکړے وي او بیا هغه د

الله پاک د پاره عاجزي اختیار کړي هغه خالص په الله والوؤ کښې دے.

(حلية الاولياء، 278/4، رقم: 5567)

❁ ځومره داسې دي چا چې د ورځې هر کلے اوکړو خو هغه ئې پوره نه کړو او ځومره داسې دي کومو چې د راتلونکې ورځ انتظار اوکړو خو هغه ئې بیا نه موندله، که چرې تاسو په مرګ او د هغې په فاصله غور اوکړئ نو ضرور به د خواهشونو او د هغې د دهوکو نه نفرت اوکړئ. (حلية الاولياء، 271/4، رقم: 5535)

❁ د توبه کوونکو زړونه د هغه شیشې په شان وي په کومه کښې چې هر څیز په نظر راځي، د هغوئي زړونه نصیحت زر قبلوي او هغوئي نرمئ ته زیات نزدې وي.

(حلية الاولياء، 279/4، رقم: 5571)

## فرامینِ حضرت احمد بن حَرب رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ

❁ د نیکانو (خلقو) سره محبت کول، د هغوئي په صحبت کښې پاتې کیدل، د هغوئي د کارونو او خبرو لیدو سره عمل کول، د انسان د زړه د پاره د دې نه زیاته بله هیڅ خبره ګټه وره نشته. (تنبيه المغترين، ص: 41 مفهوما)

❁ زه هغه کَس ته حیران یم چاته چې معلومه ده چې مخکښې ئې ښکلے کړے شوے جنّت دے او شاته ئې لمبې وهونکے دوزخ دے او بیا هم هغه له خوب ورځي.

(احياءُ العلوم، 146/5)

## فرامينِ محمد بن حَنَفِيَّه رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه

❁ څوک چې د ښه معاشرت نه کار وانخلي هغه عقلمند او پوهه نه دے او څوک چې په معاشره کښې څه ښه کار بيا نه مونځي هغه دې انتظار اوکړي تر دې پورې چې الله پاک هغه له فراختيا او د هغې نه د وتلو لاره راوباسي. (حلية الاولياء، 3/205، رقم: 3712)

❁ بے شکه الله پاک جنّت ستاسو د نفسونو قيمت ګرځولے دے، ځکه دا د هغه په غيرو مه خرڅوئ. (حلية الاولياء، 3/207، رقم: 3718)

## فرامينِ حضرت يحيٰي بن خالد رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه

❁ چې کله ښه خبره واورئ نو هغه اوليکئ، چې کله ئې اوليکئ نو هغه ياده کړئ او چې کله ئې ياده کړئ نو هغه بيانوئ. (وفيات الاعيان، 5/184، رقم: 806)

❁ دنيا تلونکے راتلونکے څيز دے او مال عارضي دے، زمونږ نه مخکښې خلق زمونږ د پاره نمونه ده او مونږ د خپلو راتلونکو (خلقو) د پاره عِبرت يو.

(وفيات الاعيان، 5/184، رقم: 806)

## فرامينِ محمد بن کَعب قُرَظي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه

❁ کله چې الله پاک د يو بنده سره د نيکئ اراده اوفرمائي نو په هغه کښې درې خصلتونه پيدا کړي: (1) د دين پوهه (2) د دنيا نه بے رغبتي او (3) د خپلو عيبونو معرفت.

(حلية الاولياء، 3/247، رقم: 3841)

❁ دنيا د فنا کور او د ګُزارې ځائے دے. نيکانو او خوش قسمته خلقو د دې نه مخ واړولو ولې د بد بختو خلقو د لاسونو نه دا په تندئ سره وتختيدله. په دې پسې روان (ګس) بد بخته او د دې نه ډېره کوونکے خوش قسمته دے. دا خپلو فرمانبردار په تکليف کښې اچوونکې، پيروکار هلاکوونکې او ځان ته د تيټوونکو سره خيانت کوونکې ده. کمے د دې مالدارې او زياتوالے د دې نقصان دے او د دې ورځې بدليږې رابدليږې.

(حلية الاولياء، 247/3، رقم: 3842 ملتقطا)

❁ زمکه د يو ګس په حق کښې ژاړې او د يو ګس خلاف ژاړې. د چا د پاره چې ژاړې هغه خوش قسمته دے څوک چې د دې په ملا (يعني په دې باندې) د الله پاک اطاعت کوي او د چا خلاف چې ژاړې هغه بد قسمته دے چا چې د الله پاک د نافرمانئ په وجه په زمکه بوج غورځولے دے. (حلية الاولياء، 247/3، رقم: 3843)

## فرامينِ حضرت ابو يَعقوب فَرقَد سَبخِي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه

❁ د ګيډې والا د پاره د ګيډې په وجه هلاکت دے چې که هغه ډکه نه کړې نو کمزورے کيږې او که چرې ډکوې ئې نو بوج (يعني وزني) کيږې.

(موسوعه ابن ابي الدنيا، 117/4، رقم: 224)

❁ يو بنده چې د اووه کاله پورې ځان د يوې ګناه نه بچ کوي نو د دې نه پس هغه دغه ګناه نه کوي. (حلية الاولياء، 53/3، رقم: 3140)

❁ اے خلقو! دنيا دائي او آخرت مور جوړه کړئ، آيا تاسو هغه ماشوم ته نه ګورئ څوک چې دائي ته حواله کړے شي خو چې کله غټ شي او خپله مور اوپيژني نو دائي پريږدي او ځان مور ته حواله کړي، بے شکه آخرت هم ستاسو د مور په شان دے او زر ده چې هغه تاسو ځان طرفته راکاږي. (حلية الاولياء، 3/53، رقم: 3131)

❁ هغوئي فرمائي چې ما په تورات شريف کښې لوستلي دي چې چا په دنيا باندې په غمژن حالت کښې سحر کړو نو هغه په خپل رَبّ باندې د خفګان په حالت کښې سحر کړو، څوک چې د چا مالداره سره کښيناستو او د هغه د پاره ئې عاجزي اوکړه نو د هغه په دريو کښې دوه حصې دين لاړے او چا چې په مصيبت پيښيدو خلقو ته د هغې شکايت اوکړو نو لکه چې هغه د الله پاک شکايت اوکړو. (حلية الاولياء، 3/53، رقم: 3137)

## فرامينِ حضرت ابو حازِم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه

❁ چې تاسو دا اووينئ چې ستاسو رَبّ تاسو ته پرله پسې نعمتونه درکوي او تاسو د هغه نافرماني کوئ نو تاسو ته د هغه نه ويريدل پکار دي. (تاريخ ابن عساکر، 22/64، رقم: 2613)

❁ لکه څنګه چې په پوره کوشش سره تاسو خپله ګناه پټوئ نو هم دغه شان د خپلو نيکو پټولو هم کوشش کوئ. (تاريخ ابن عساکر، 22/68، رقم: 2613)

❁ په دنيا کښې چې کوم ژوند تير شوے دے هغه د خوب په شان دے او کوم چې پاتې دے هغه آرمانونه دي. (الثقات لا بن حبان، 3/250، رقم: 569)

❁ په دنيا کښې چې کوم ښيزونه هم تاسو خوشحالوي، د هغې سره ستاسو د غمژن کولو ښيزونه خامخا وي. (حلية الاولياء، 3/276، رقم: 3943)

❁ بے شکه د آخرت سامان په (د دنيا په ژوند کښې) ډير ارزان دے، ځکه په ارزانه زمانه کښې هغه زيات راجمع کړئ ځکه چې کله د هغې د لګولو ورځ راځي نو دا به نه بيا لره حاصليږي او نه ډير. (حلية الاولياء، 22/53، رقم: 2613)

## فرامينِ حضرت يَحيٰی بن ابو کثير رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه

❁ نيکئ ياد ساتل او ګناهونه هيرول ډيره غټه دهوکه ده. (حلية الاولياء، 3/80، رقم: 3244)

❁ علم د جسماني راحت او آرام سره نه حاصليږي. (تاريخ بغداد، 10/142، رقم: 5279)

❁ تاسو دې د يو کَس عاجزي په حيرانتيا کښې نه غورځوي تر دې پورې چې هغه د غصې په حالت کښې اونه وينئ او د چا امانت داري دې هم تاسو په څه حيرانتيا کښې نه غورځوي تر دې پورې چې د هغه د طمعې او لالچ مشاهده اوکړئ ځکه چې تاسو ته معلومه نه ده چې هغه به په کوم اړخ اوړي. (حلية الاولياء، 3/81، رقم: 3251)

❁ د علم ميراث د سرو زرو د ميراث نه بهتر دے او نيک سيرته کيدل د لعلونو نه بهتر دي. (حلية الاولياء، 3/78، رقم: 3233)

❁ درې ښيزونه چې په کوم کور کښې وي د هغه (کور نه) برکت اوچتولے شي: (1) فضول خرچي (2) زِنا او (3) خيانت. (حلية الاولياء، 3/81، رقم: 3252)

## فرامینِ حضرت ذُولنُّون مِصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه

❁ چا پوښتنه اوکړه: انسان ته به څنګه معلومیږي چې هغه مخلص (وفادار) دے؟ اوئي فرمائيل: چې هغه په نیک کار کښې د پوره کوشش کولو باوجود دا خبره خوښوي چې زه عزت والا اونه ګڼړلے شم. (تنبيه المغترين، ص: 23)

❁ (د هغوئي نه اوپوښتلے شو: په خلقو کښې د ټولو نه زیات غمژن کوم کَس دے؟ اوئي فرمائيل:) څوک چې زیات بد اخلاقه دے. (رساله قشيريه، ص: 276)

❁ په زړه کښې د هیبت وجود او د الله پاک په دربار کښې په خپلو تیرو عملونو باندې ویریدل ستاسو ”حیاء“ ښائي. (رساله قشيريه، ص: 249)

❁ ”حیاء د خاموشئ سبق ورکوي او ”ویره“ پریشانه ساتي. (تاريخ ابن عساكر، 430/17)

❁ د داسې کَس ملګرے جوړیږئ د چا صفتونه چې ستاسو سره خبرې کوي او د هغه سره مه کښیېنئ د چا ژبه چې ستاسو سره خبرې کوي. (قوت القلوب، 324/1)

## فرامینِ حضرت ابوبَکر شِبلي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه

❁ د بدو خلقو د صحبت د نحوست (پلیتئ) نه د نیکو بنده ګانو په باره کښې بد ګماني پیدا کیږي. (الكواكب الدرية، 103/4)

❁ شکر دا دے چې نظر په نعمت ورکوونکي وي نه چې په نعمت باندې.

(احياءُ العلوم، 103/4)

❁ څوک چې د الله پاک د طرف نه رحمت او عطا اووينې او د هغه سره محبت اوکړې هغه په محبت کښې مخلص (يعني وفادار) نه دے. (حلية الاولياء، 395/10، رقم: 15591)

## فرامينِ حضرت بايزيد بِسطامي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه

❁ ما د خپل زړه، ژبې او نفس د اِصلاح د پاره لس لس کاله تير کړل، په دې کښې ماته د ټولو نه ګرانه د زړه اصلاح معلومه شوه. (منهاج العابدين، ص: 98)

❁ د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بي بي مبارکه بيانوي چې ما هغوئي په دې فرمائيلو واوريدل: ما د هر څيز علاج اوکړو خو د نَفس د علاج نه مې ګران علاج بيا نه موندلو حالانکه دا نَفس زما تر سنګ د ټولو نه زيات سپک دے. (حلية الاولياء، 37/10، رقم: 14426)

❁ د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه اوپوښتلے شو: بزرګانو مَعرِفت څنګه حاصل کړو؟ اوئې فرمائيل: هغوئي خپل حقونه پريښودل او د الله پاک په فرائضو ترسره کولو ئې لاس پورې کړو. (حلية الاولياء، 39/10، رقم: 14441)

❁ د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه پوښتنه اوکړے شوه: د عارف نخښه څه ده؟ اوئې فرمائيل: د الله پاک په ياد کښې سستي نه کوي، د بندګئ په حق ادا کولو نه بيزاره کيږي او د الله پاک نه علاوه په بل چا پسې زړه نه تړي. (حلية الاولياء، 39/10، رقم: 14443)

❁ لوړه وريځه ده، بنده چې اوړے وي نو په زړه باندې ئې د دانيئ او حِکمت باران وريږي. (حلية الاولياء، 40/10، رقم: 14448)

❁ هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه اوفرمائيل: چې كله تاسو يو داسې كَس اووينئ چاته چې كرامات عطا کړے شوي وي تر دې پورې چې هغه بره الوځي نو په هغه مه دهوكه كيږئ تر دې پورې چې هغه اووينئ چې هغه د نيكئ په حكم كولو، د بدو نه په منع كولو، د الله پاک د حدونو په حفاظت كولو او په شريعت باندې په عمل كولو كښې څنګه دے.

(حلية الاولياء، 41/10، رقم: 14453)

## فرامينِ حضرت سَهل بن عبدُ الله تُستَري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه

❁ الله پاک د هغه بنده زړه نه برسيره كوي په چا كښې چې دا درې څيزونه وي: (1) د باقي پاتې كيدو خواهش (2) د مال محبت او (3) د سبا غم.

(حلية الاولياء، 201/10، رقم: 14920)

❁ د خلقو د بدو او ناوړو عادتونو تفتيش مه كوئ بلكه د خپل ځان په باره كښې د اسلامي اخلاقو تفتيش او كړه كتنه كوئ تر دې پورې چې تاسو فرمانبرداره شئ او ستاسو په زړه كښې او ستاسو په نز ستاسو د زړه قدر زيات شي. (حلية الاولياء، 202/10، رقم: 14923)

❁ د عِلم نه سيوا ټوله دنيا جهالت، د اخلاص نه بغير ټول عمل د دوړو آلوتې ذرې دي او په اِخلاص والا عمل كښې هم تاسو ويريږئ تر دې پورې چې تاسو ته پته اولګي چې عمل قبول شوے دے كه نه. (حلية الاولياء، 203/10، رقم: 14926ملتقطا)

❁ د عِلم شكر عمل او د عمل شكر د علم زياتوالے دے.

(حلية الاولياء، 203/10، رقم: 14927)

❁ کینه دِ کوَل د غفلت اصل دے. (حلية الاولياء، 203/10، رقم: 14931)

❁ چې انسان په ګناه کلک ولاړ وي نو د هغه په ټولو نیکو کښې د نفس د خواهشونو ملاوټ وي او تر څو پورې چې هغه په یوه ګناه هم کلک ولاړ دے د هغه نیکۍ خالص کیدے نشي. هغه د خپلو نفساني خواهشونو نه خلاصے نشي موندے تر څو پورې چې هغه د هغه ټولو څیزونو نه اونه ووځي کوم چې هغه پیژني چې دا د الله پاک خوښ نه دي. (حلية الاولياء، 204/10، رقم: 14932)

❁ د هغه عِلم نه افضل چاته بل هیڅ یو څیز نه دے عطا کړے شوے د کوم په وجه چې (د بنده) د الله پاک طرفته محتاجي زیاته شي. (حلية الاولياء، 204/10، رقم: 14934)

❁ د بنده ګانو د پاره څلور څیزونه داسې دي کوم چې الله پاک په خپله ذِمهٔ کرم اخستي دي: (1) څوک چې د الله پاک نه ویریږي الله پاک به هغه له امان ورکوي (2) څوک چې د هغه نه طمع ساتي هغه به خپلې طمعې ته رسي. (3) څوک چې د نیکو په ذریعه د هغه قُرب (یعني نزدې والے) حاصلوي هغه (یعني الله پاک) به د هغه (کَس) نیکۍ قبلوي او د یو په بدله کښې به د 10 ثواب عطا کوي. (4) څوک چې په هغه تَوَکُّل کوي هغه (یعني الله پاک) به د هغه (کَس) تَوَکُّل قبلوي، هغه به نفس ته نه سپاري او د هغه د معاملو ذمه واري به پخپله اخلي.

د هغوئ رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نه اوپوښتلے شو: هغه کوم یو عمل دے کوم چې انسان کوي تر دې پورې چې د خپل نفس عیبونه اوپیژني؟ اوئې فرمائیل: انسان د خپل نفس عیبونه تر

هغه وخته پورې نشي پیژندے تر څو چې په خپلو ټولو احوالو کښې د نفس محاسَبَه اونکړي. عرض اوکړے شو: هغه کومه مرتبه ده کومې ته رسیدل چې مقامِ عُبُودِیت ته رسیدل دي؟ اوئې فرمائیل: کله چې تدبیر پریږدي. عرض اوکړے شو: هغه کومه یوه مرتبه ده کومې ته رسیدل چې مقامِ صِدق ته رسیدل دي؟ اوئې فرمائیل: چې کله د الله پاک په حکم او د منع کولو په معامله کښې په هغه تَوَکُّل اوکړي.

(حلیة الاولیاء، 205/10، رقم: 14941)

❁ اُمید د هرې ګناه زمکه، حِرص د هرې ګناه تخم او د لم لیټ نه کار اخستل د هرې ګناه اوبه دي. پښیمانتیا د هر اطاعت زمکه، یقین د هر اطاعت تخم او عمل د هر اطاعت اوبه دي. څومره چې ته خپله دنیا راغورځوې دومره به خپل آخرت جوړوې. څومره چې ته د خپل نفس، نفساني خواهش او د خپلې آسانۍ مخالفت کوې دومره به ته خپل مولا رضا کوې. څومره چې ته خپل دښمن شیطان او د هغه دښمنې پیژنې دومره به ته خپل رَبّ پیژنې. (حلیة الاولیاء، 205/10، رقم: 14945)

❁ څوک چې بد ګُمان ساتي هغه د یقین نه محرومه کیږي، څوک چې بے فائدې خبرې کوي هغه د صِدق (رښتنولۍ) نه محرومه کیږي او څوک چې په فضول کارونو کښې مشغول کیږي هغه د پرهیزګارۍ نه محرومه کیږي او څوک چې د دې دریو واړو څیزونو نه محرومه شي نو هغه په هلاکت کښې غورځیږي او هغه د دښمنانو په رجسټر کښې لیکلے شي. (حلیة الاولیاء، 205/10، رقم: 14946)

❁ د "لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ" وئیلو ثواب د الله پاک دیدار دے او جنّت خو د عملونو ثواب دے.

(حلیة الاولیاء، 214/10، رقم: 15012)

❁ حضرت احمد بن محمد بن سالِم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بیانوي چې زه د حضرت سَهل بن عبدُ الله تُستري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضرووم یو ګَس راغلے او عَرض ئې اوکړو: اے اُستاذه! اصلي خوراک څه دے؟ اوئې فرمائیل: همیشه ذِکر کول. هغه ګَس اووئیل زه په دې باره کښې پوښتنه نه کووم. هغوئي اوفرمائیل: اے بنده! څیزونه صرف د الله پاک په سبب قائم دي. هغه ګَس عرض اوکړو: زما مراد دا نه دے بلکه زه خو د هغې په باره کښې پوښتنه کووم د کومې نه بغیر چې بله لاره نشته. هغوئي اوفرمائیل: اے ځلمیه! د الله پاک نه بغیر هم بله لاره نشته. (حلیة الاولیاء، 218/10، رقم: 15022)

## فرامینِ حضرت داتا علي هَجویري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

❁ په اور باندې قدم ایښودل خو نفس زغملے شي خو په عِلم باندې عمل کول د دې نه دوه چنده ګران دي. (فیضان داتا علي هجویري، ص: 70)

❁ د کوم قِسمه خلقو صحبت چې اختیار کړے شي نفس د هغوئي خصلت او عادت اختیاروي. (کشف المحجوب، ص: 375)

❁ د عمل رُوح اِخلاص دے، لکه څنګه چې بدن د رُوح نه بغیر صرف یو کانړے دے دغه شان عمل بغیر د اِخلاص نه صرف دوړه ده. (کشف المحجوب، ص: 95)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کیدونکي د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنَّتو د تربیَت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِینه" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ






فیضانِ مدینه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 I Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com I E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com